# د مکمل انسان نخښې

سعدالله جان برق

کېدے شي چې زما په دې خبره کښې ډېر خلق وټ راوباسي چې انسان د دې دومره زياتې ترقۍ باوجود اوس هم نيمګړے نامکمل او ناپخته دے. بېشکه انسان په هر لوري ترقي کړې ده. په روايتي الفاظو کښې د زمکې نه اسمان ته ورسېدو او په نمر سپوږمۍ او ستورو باندې کمندونه اچوي. علامه اقبال په فلسفيانه رنګ کښې دا خبره داسې کړې ده چې:

جبريل تو ادنٰي سا هے
صيد زبون ميرا
يزدان بـه کمند اور اے
همت مردانه

خو زۀ چې کله د انسان د دې ناپختګۍ نيمګړتيا او نارسايۍ وضاحت وکړم نو هر يو معقول بنده به دا ووينې چې انسان د خپلې ارتقا، تکميل او منزل په طرف لا سبر کښې پونۍ هم نۀ ده رېښلې خو په خبره د پوهېدو دپاره به لږ تفصيل ته تلل غواړي. په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کښې يو درې داسې عالمان پيدا شول چې د انسان زاړۀ نظريات، عقائد او خيالات ئې د بېخه ولړزول په دوي کښې يو خو چارلس ډارون ؤ کوم چې په انساني ارتقاء يوه نوې نظريه وړاندې کړه. دوېم کارل مارکس ؤ چې د انسان په اقتصادي مسئلو ئې نوي خيالات وړاندې کړل، درېم سګمنډفرائيډ ؤ چې د انسان په باره کښې ئې د انسان زاړۀ نظريات رد کړل.



د دغه درېو انقلابي نظريو د کبله ډېر هغه روايتي نظريات هسې بُوس ثابت شول چې انسان د زرګونو کلونو راهسې بادول. هغه تمام "حقائق" ئې هسې وهمونه ثابت کړل چې د انسان په ايمان عقيده او دماغ کښې ښخ وو. دلته په دغه درېو واړو نظريو خبره کول خو ډېر تفصيل غواړي خو زۀ صرف د سګمنډ فرائيډ د هغه نظريو ذکر کول غواړم د کومو مخه چې د انسان بېرون ته نۀ بلکې اندرون ته ده، بلکې دا به ووايو چې نورې نظريې خو د "جهان شناسۍ" په لړ کښې راځي خو د سګمنډ فرائيډ

نظریه د "ځان شناسۍ" په باره کښې ده او شاید چې دا وړومبنۍ باقاعده عملي کوشش ؤ چې په دې سلسله کښې وشو. د دې نه وړاندې کۀ دا خبره کېدله هم او شوې هم وه نو هغه د مختلفو نظریو مذهبونو او عقیدو د لاندې شوې وه چې د عقل نه زیات تعلق ئې د عقیدې روح او نظریو سره ؤ، د مثال په طور یوه ډېره مشهوره خبره د ډېر پخوا نه راروانه ده چې:

"من عرفه نفسهُ عرف ربهُ"

چا چې ځان وپېژندلو هغۀ خدائې وپېژندلو، ترکومې پورې چې د دې خبرې یا الفاظو تعلق دے نو دا نۀ قرآن کښې شته نۀ حدیث کښې خو د نفس مضمون تر حده پورې کۀ مونږ فکر وکړو نو د هر مذهب هر دین او هرې نظریې او عقیدې ټول نچوړ هم دغه وي. د رب پېژندنه په لاره د ځان پېژندنې په هنري فلسفه کښې هم دغه خبره د هرې تپسیا او عبادت نچوړ دے. د "اتما" په ذریعه تر "پرماتما" رسېدل کله چې زۀ په دې یقیني شم چې زۀ "یوه آتما" (روح) یم نو بیا زما مرام د پرماتما (روح اعلي) سره وصلت دے.

په دغه بنیاد چې مونږ سوچ وکړو نو انسان د هر څۀ په پېژندلو پسې سرګردانه دے، تر لرې لرې لاړو اسمانونو ته ورسېدو او د پوره کائنات د پېژندلو کوشش کوي خو د ځان پېژندنې په لړ کښې لا تر اوسه پورې نیمګړے، نامکمل او ناپخته دے. په لړو نورو صفا الفاظو کښې به دا ووایو چې دے د خارجي فتوحاتو په نشه کښې دومره مست دے چې اندروني او باطني محاذ ئې بالکل پرېښے دے او چې ترکومې دۀ خپل اندروني محاذ باندې برے نۀ وي موندے د دۀ هر څۀ نیمګړي، نامکمل او نا پخته دي او ورسره غټه خبره دا ده چې فضول هم دي. ځکه چې د ټولو نه اول خو د ځان د نۀ پېژندنې په وجه دے د دې حقیقت نه بېخي ناخبره دے چې ترکومې پورې دۀ خپل تکمیل نۀ وي کړے اندروني محاذ ئې نۀ وي فتح کړے او خپل روح ئې نۀ وي پوره کړے نو بېروني فتوحات هیڅ معنٰي نۀ لري او کۀ دے هر څومره هر څۀ وکړي خو دے به نامطمئن، ناقلاره او خوفزده وي.

د دې نیمګړتیا د ټولو نه لوئې نقصان دا دے چې دے همېشه ویرېدلے، خوفزده وي او ځان غېر محفوظ ګڼي، مادي او بېروني فتوحات دے کوي صرف د دې دپاره چې د خپل عدم تحفظ څۀ علاج وکړي خو دے دا هېر کړي چې بهر چې هر څۀ دي دولت، شهرت، نوم، مرتبه، صفات دا ټول "مادي" دي او په "مادي" څیزونو باندې د روح علاج نۀ شي کېدے.

دغه وجه ده چې مونږ نن سبا کوشش کوو چې ډېر نه ډېر څۀ حاصل کړو، ډېر نه ډېر خلق فتح کړو، د لرې نه تر لرې پورې د خپلو فتوحاتو جنډې ودروو چې خپل ځان محفوظ، پوره او مکمل کړو.

خو د علاج دا طریقه د سره غلطه ده، په مادي داروګانو روحاني علاج نۀ کېږي او ثبوت ئې دا دے چې انسان نامطمئن ؤ، نامطمئن دے او نامطمئن به وي.

مونږ دولت څۀ له جمع کوو، دې دپاره چې زۀ زیات نه زیات طاقتور شم، فتوحات څۀ له حاصلوو؟ دې دپاره چې زۀ زیات نه زیات محفوظ شم، شهرت څۀ دپاره حاصلوو چې زۀ زیات نه زیات وپېژندلے شم خو د دې یو څیز هم څۀ پُوله څۀ حد او څۀ منزل نشته ځکه چې زۀ دننه نه نیمګړے یم او

چې ځومره ځومره خپل مادي تکمیل کوم نو هم دومره دومره لا نیمګړے او غیر محفوظ کېږم.

مونږ چې دا د دولت، شهرت، عزت، شجاعت، سخاوت الغرض ټولو صفاتو زیات نه زیات راغونډول کوو دا ټول زمونږ د اندروني خوف، ویرې او عدم تحفظ د احساس نتیجه وي.

د خپلې اندروني یا روحاني یا ذهني نیمګړتیا د دې مرض مونږه تشخیص هم غلط کړے دے او علاج ئې هم غلط دے. د دې علاج صرف او صرف په اندروني طریقه کېږي. زما خوف لښکرې فوځونه، دولتونه، طاقتونه او تمام مادي څیزونه هیڅرې هم نۀ شي ختمولے، زما اندروني خوف ویره او د عدم تحفظ احساس صرف دا دے چې زۀ په خپل اندرون کښې ناست د نیمګړتیا ، عدم تحفظ علاج وکړم او هغه صرف داسې کېدے شي چې زۀ خپل اندرون مضبوط کړم چې د "لاخوف علیهم ولایحزنون" مقام ته ورسم.

هم دغه اندروني خوف ، نیمګړتیا او د عدم تحفظ احساس چې نن د انسان د هر مرض باعث او بنیاد دے. په دې موضوع د تفصیلي خبرو د پاره ډېر وخت او کاغذ سیاهي پکار ده، زۀ دلته صرف د دې "نیمګړتیا" صرف یو اړخ رانیول غواړم.

د خپلې روحاني کمزورۍ یا ویرې علاجونه هر څوک په مختلفو طریقو کوي، څوک څۀ لاره اختیاروي، څوک څۀ څوک په ډېر دولت طاقت او شهرت علاج کول غواړي او څوک ئې د بې شماره صفاتو او شاباسۍ حاصلولو په شکل کښې کوي چې یو پکښې هغه شے دے چې مونږ ورته بهادري، شجاعت او ځوان مردي وایو او مجموعي شکل ئې تشدد دے، د بل وژل، وهل ټکول ، پرزول، مفتوح کول صرف او صرف په یو خیال کېږي چې څوک ما کمزورے ونۀ ګڼي، بزدل مې ونۀ ګڼي او زۀ د خپلو کارنامو دومره دنګې دنګې منارې جوړې کړم چې خلق بس هغو ته ګوري او زما د عیبونو کمزورو او ویرې نه خبر نۀ شي.

د دې ټولو کارنامو شاته هم دغه یوه جذبه وي چې ما دې خلق بالا او برتر وګڼي، دوېم اړخ ئې دا دے چې ما څوک کمزورے، نیمګړے او خوفزده ونۀ ګڼي.

خو دے دا خبره هېره کړې چې د اندروني مرض علاج په بېروني دارو نۀ کېږي. په دې څیزونو تر څۀ حده دے خپل مرضونه د نورو نه خو پټ کړے شي یا پټولو کښې کامیاب شي خو مرض په خپل ځائے دے چې دے همېشه په تکلیف کښې ناقلاره ساتي او د نور نور نور په لټونتوب کښې ئې سرګردانه ساتي.

خو د دې دا مطلب نۀ شو چې تمام انسانان دغسې وي، بلکې ډېر خلق داسې وو ، شته او پېدا کېږي به چې خپل اندرون ئې مضبوط وي نو د بېرون هیڅ پروا نۀ کوي، د هغۀ هڅو دې سره څۀ کار نشته چې خلق څۀ وائي. د هغه سر و کار دې سره دے چې زۀ درست یم، صحیح یم او پوره یم. د خپل اندرون نه مطمئن او محفوظ او مکمل انسان نۀ خو د بېروني وسائلو محتاج وي، نۀ ځان نه چاپېره څۀ مادي او مصنوعي دېوالونه وهي او نۀ د ځان نه ګېره، خلق او ماحول باندې په مصنوعي طریقو حاوي کېدل غواړي. هغۀ ته پته وي چې زۀ پوره یم، په حقه یم، درست یم نو بیا د هیڅ څۀ پروا دار پاتې نۀ شي، نۀ په دولت د خلقو سترګې بربښوي، نۀ په شجاعت جسمونه فتح کوي او نۀ د ځان په باره

کېږي د خلقو د ځُلو بندولو کوشش کوي، رحمان بابا دا مضمون په دې شکل بيان کړے دے:

لکه ونه مستقيم په خپل مقام يم
که خزان راباندې راشي که بهار

او بل هغۀ ته خپل ځان معلوم وي ځان ئې پېژندلے وي، د خپل حقانيت زور او طاقت ادراک لري، نو بيا چې د دې خبرې تفسير شي چې:

په ښۀ خوي د بد خواهانو بې پروا يم
په نرمۍ لکه اوبۀ د اور سزا يم

او په دې بنياد چې مونږ وګورو نو په دې نزدې زمانه کښې صرف يوه هستي په نظر راځي او هغه د باچا خان ده چې لکه ونه مستقيم په خپل مقام هم ؤ او په نرمۍ لکه اوبۀ د اور سزا هم ؤ او دا صرف او صرف په دې وجه چې هغۀ ته خپل ځان معلوم ؤ، خپل نفس ئې پېژندلے ؤ، دا ورته پته وه چې زۀ څۀ کوم هغه صحيح دي، درست دي او حق دي. اوس کۀ څوک ئې مني کۀ نۀ مني، ورسره اتفاق کوي او کۀ اختلاف، څۀ وائي او څۀ نۀ وائي، داسې هيڅ قسم کمزوري د هغۀ مخې ته نۀ راځي. د هغۀ صرف يو مرام دے چې زۀ په صحيح لاره يم، په صحيح لاره ځم، په نور جهان زما هيڅ کار نشته چې هغوي څۀ ګڼي، څۀ کوي او څۀ وائي. زما خپل ځان سره کار دے چې په حقه يم، صحيح يم او روان يم او دا زور، دا قوت، دا استقلال، دا بې نيازي په مادي وسائلو نۀ ده راغلې بلکې د هغۀ د خپل اندروني قوت اطمينان او يقين پېداوار وه.

او زما په خيال کښې دا صرف او صرف د مکمل انسان نخښه ده او انسان چې مکمل شي نو هغۀ ته بيا نۀ د قلاګانو ضرورت وي، نۀ د لښکرو وسلو او نۀ د خلقو د ځُلو او ژبو، د هغۀ دا يقين پوخ او راسخ وي چې زما لاره سمه ده بس. نور هغۀ ته بيا د هيڅ ضرورت نۀ وي.

نه تاج و تخت مين نه لشکر و سپاه مين هے
جو بات مرد قلندر کی بارگاه مين هے

او دا هم د پخې عقيدې په ځان د پوخ يقين او په خپله لاره د کلک ايمان نتيجه وه چې هغۀ په سور اور کښې د ګلونو کرلو کار شروع کړو او کامياب هم شو، کېدے شي دلته بيا کاميابي هم په مادي او بېروني معنو کښې واخستې شي چې ځان له په خپله د نيمګړتيا او ناپختګۍ علامه ده، کاميابي نۀ وژلو ته وائي، نۀ ګټلو ته وائي او نۀ حاصلولو ته وائي. کاميابي په هغه لاره تللو ته وائي چې کومه سړے ځان دپاره وټاکي او خوښه کړي او صحيح ئې وګڼي.

په دې رڼا کښې چې مونږ وګورو نو باچا خان په يو داسې وخت يو داسې وګړي او يو داسې چاپېرچل کښې د "عدم تشدد" ګلونه کري چې چاپېره د تشدد غرغندې خپرې، بلکې صفا صفا داسې ماحول ؤ چې تشدد د بهادرۍ او شجاعت نوم ؤ، وژل وهل او فتح کول د هر چا ايمان ؤ او عدم تشدد د بزدلۍ بې غېرتۍ او بې ننګۍ نوم ؤ، ځکه چې ماحول تمام د انساني کمزورۍ نيمګړتيا او نامکملتيا په خولو کښې ډوب ؤ.

حالانکې کۀ حقيقت ته په ژور نظر وکتلے شي چې "وژل" بهادري نۀ بزدلي وي، مونږ چې په منډه روان يو او دا راسره ويره وي چې دا بل رانه وړاندې نۀ شي نو پښه ور واچوو يا ورسره بل څۀ داسې کار وکړو چې هغه بائلي او زۀ وګټم او کۀ نۀ زما په ځان

باور وي چې هغه مانه وړاندې کېدے نۀ شي او ما کښې دومره دم شته چې وروستو ئې پرېږدم نو داسې به هيچرې نۀ کوم، صفا خبره ده چې عام طور ئې مونږ کوو. زما يا د فلاني هيچا نه سترګه نۀ سوځي او چې کله د چا نه سترګه سوځي نو په ځائے د دې چې زۀ خپلې سترګې هغۀ ته مخامخ ونيسم د هغۀ د سترګو ويستلو او د مينځه لرې کولو کوشش کوم. داسې به وګڼو چې ژوند د يو داسې سړک نوم دے چې بې شماره ګاډي او هر قسم سواري پلې پرې روان دي. په دوي کښې چا ته د خپل منزل پته وي او پخه اراده ئې د خپل منزل ته رسېدو وي نو هغه د نورو هيڅ پروا نۀ کوي، نور څوک تېز ځي کۀ ورو د هغۀ پرې هيڅ کار نۀ وي. دۀ سره يا يو بل سره رېس کوي يا نۀ کوي د يو بل مخه وهي، رکاوټ کېږي يا نۀ، غلطه ډرائيوري کوي کۀ سمه، په هيڅ څۀ د دۀ کار نۀ وي، د دۀ په نظر کښې صرف خپل منزل وي چې ما له هلته رسېدل پکار دي او دې دپاره ضروري لوازم دا وي چې د دۀ ګاډے دے د دغه سفر اهل وي، د دۀ دې ګاډې چلول زده وي او د دۀ رفتار دې په داسې تولـه وي چې په خپل وخت خپل منزل ته ورسي او کۀ نۀ دے په نورو معاملو کښې ځان ونښلوي، چا سره رېس راواخلي يا د هغۀ د څۀ غلطۍ په جواب کښې دے هم څۀ کول وغواړي نو خپل منزل به ترې پاتې شي او په نورو معاملاتو کښې به هسې خپل زور وخت او انرجي برباد کړي.

باچا خان هم دا يقين خاص کړو چې د پښتنو د مرضونو علاج په تشدد کښې نۀ دے ځکه چې تشدد تباهي ده او د تباهۍ نه هم تباهي ولاړېږي.

د ازاره چا بازار مونـدلے نـۀ دے
په سور اور کښې شين غندل ختلے نۀ دے

د يو بهترين طبيب حکيم او معالج په حېث هغۀ اول خو د پښتون د مرض صحيح تشخيص وکړو چې دا قوم کۀ تباه کړے دے تباه کوي ئې نو هغه تشدد، دشمني، انتقام او بې ځايه غېرت يا شجاعت دے او د دې علاج صرف او صرف د علم رڼا او عدم تشدد دے، تشدد دواړه طرفيزه تباهي پېدا کوي، څوک چې مړ شو نو هغه خو تباه شو خو چې چا مړ کړو نو هغه هم ځان له د تباهۍ لاره خوښه کړه. دغسې د تشدد نه تشدد ، د قتل نه قتل او تباهۍ نه تباهي زېږېږي چې خورېږي زياتېږي او هيڅوک هم ترې بچ نۀ شي پاتې کېدے او د دې تباهۍ د مخ نيوي علاج صرف امن او عدم تشدد دے، په څۀ نه څۀ مرحله کښې څوک نۀ څوک او هر کله چې وي يو ځل به د امن او عدم تشدد اوبۀ په دغه اور اچوي نو ايله به مري، په پُوکو او په خشاک اور نور هم زياتېږي، دنيا لګيا وه اوس هم لګيا ده ، د تشدد په ذريعه د امن راوستو کوشش کوي خو هسې فضول د اور نه هم اور پېدا کېږي، د زهرو نه هم زهر پېدا کېږي او د کرکې نه هم کرکه پېدا کېږي.

او دا خبره باچا خان په مکمل طور معلومه کړې وه بيا ئې عقيده کړې وه او بيا ئې پرې عمل کړے ؤ چې د اور سزا اور نۀ بلکې اوبۀ دي او دا د هغۀ د اندروني تکميل، اندروني ايمان او اندروني اطمينان وجه وه چې هغه د بهر د وسائلو نه بې نيازه ؤ، په خپل ځان کښې مکمل ؤ، خپله نظريه ئې درست ګڼله او بغېر د شک شبې يا خوف ئې پرې عمل کولو او دا د يو مکمل انسان واحده نخښه ده.